مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب الله زغم

۲۰۲۳/۱۰/۲۸

کونډه پېغله

دا زما د کور ریښتیانی کیسه ده؛ خو له تاسو سره یې هم شریکوم. پلار مې په خوست کې خپله ټوله ځمکه خرڅه کړه، دلیل یې دا و، چې هلته د ځمکې پر سر مرګونه ډېر کېږي او ده نه غوښتل چې خپل زامن مرګ ته ورکړي. موږ په کابل کې اوسېدو؛ خو ترونه مې له خپلو کورنیو سره په خوست کې دېره دي. د یوه ترره زوی مې فریدالله نومېږي. ده په کلي کې د درګې ولسوالی د سرك ځنګ ته د پرچون دوکان خلاص کړی و. دوی دوې بدی (دښمنی) لرلې. پلار یې د انقلاب په کلونو کې یو چا وژلی و. قاتل له خپل کلي فراره شوی و، پټ ګرځېده. د فریدالله مشر ورور عزیزالله بیا د خپلې خور د لېوره زوی چې دواړه لاسونه یې په مړوندو غوڅ وو، وژلی و. دوی د دې بدی له وجې څو کاله کلی کور پرې ایښی و، کله په مېرانشاه کې او کله د وطن په غرونو کې مېشتېدل. د عزیزالله بل اوښی په عربو کې و. ده ته یې د عربو ویزه وایسته؛ خو عزیزالله په عربو کې هم بدماشي وکړه، یو عرب یې په چاړه وواهه. څو کاله بند یې تېر کړ او بیا له هغه ځایه وشړل شو.

بل ترره مې په ضابط مشهور دی. خدای دې یې وبښي اوس مړ دی. هغه به ان د ظاهر شاه په وخت کې ټوپك ګرځاوه. د بټېرو (مېرز) او د جنګې سپیو شوقي و. مشر زوی یې په عربو کې و. بل زوی یې رفیق الله نومېږي. یوه ورځ رفیق الله خپل سپی د فریدالله د دوکانه مخې ته راولي. د بل کلي یو ژنی ورته وایي، زما له سپي سره یې جنګوي؟
رفیق الله وایي: ولې نه.

فریدالله ورباندې غږ کوي: زما د دوکان مخې ته به یې نه جنګوئ؟

رفیق الله پوښتنه کوي: ولې؟

فریدالله ځواب ورکوي: که ستا سپی پړ شي، بیا ما ته شرم دی. خلك راپورې خاندي چې د ترره د زوی سپی دې بګېل شو.

رفیق الله د ده په خبره غوږونه کښوي، سپی جنګوي. سپی یې بګېل کېږي، میدان پرېږدي.
فریدالله ورته وایي: ما نه وو درته ویلې؟ نور به زما د دوکان خوا ته نه راځې.
رفیق الله کور ته ورځي او پلار ته وایي چې فریدالله له خپل دوکانه منع کړم.

پلار یې وایي: اوهو! دی نو دومره رټ شو، چې زما زوی منع کوي؟ ورشه ته هم ورته ووایه چې نور به ته هم زموږ په ځمکه نه تېرېږي.

فریدالله چې دا خبره اوري، کور ته ځي. مور ته وایي چې ترره مې داسې خبره کړې ده.

مور یې ورته وایي: ته نو دومره بې غیرته شوې، چې د ترره په ځمکه نه شې تېرېدای. هله ماشین واخله، نر غوندې ورځه.

فریدالله کلاشینکوف په اوږه کوي. دی مخکې دوه ورونه یې ورپسې د ترره د کور خوا ته ورځي. ترره چې یې ویني، هغه هم کلاشینکوف رااخلي، د دېواله شاته مورچه نیسي. رفیق الله هم ورسره راوځي. فریدالله غږ کوي: دا دی زه مو په ځمکه ګرځم، که څوك د نر زوی وي، ما دې راوګرځوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ضابط ډز کوي. د دواړوو خواو ګوتې پر ماشو ټینګېږي. د مرمیو ججورې تشېږي.
رفیق الله لګېږي، بې سده پر ځمکه لوېږي. فریدالله او ورونه یې پښې سپکوي.

***

رفیق الله څو څو واري پېښور او کابل ته بیول شوی دی. د لاس هډوکي یې جوړ شول؛ خو هغه مرمۍ چې د ده پر نس لګېدلې او له ملا څخه یې وتلې وه، شمزۍ یې داسې تاواني کړې وه چې په هېڅ ځای یې کې علاج نه کېږي. هغه اوس له ملا څخه لاندې په ځان نه دی خبر، دواړه لینګې یې فلج دي. د بولو او غایطو واك یې په لاس کې نه دی. اوس به د اته ویشتو کالو وي. همزولي یې ودونه کړي دي، اولادونه لري؛ خو دی پاتې دی.

زما پلار او نورو سپین ږیرو د دوی تر منځ سوله وکړه. د فریدالله درې کلنه ورېره یې د رفیق الله ورور ته په بدو کې ورکړه. بدي یې ورختمه کړه؛ خو د کونډې پېغلې غم به څوك وکړي؟

زما د بل تره لور د رفیق الله په نامه وه. رفیق الله فلج دی او تر ملا کښته بدن یې کار نه کوي خو کوژدنه به یې مجبوره وي چې سر ورسره سپین کړي؛ ځکه چې د پښتنو د دود دستور له مخې هغه بل چا ته نه شي ودېدای.
دې ته ورته پېښې زموږ په وطن کې کمې نه دي. موږ پردیو دومره نه یو وژلي، څومره چې په خپلو کې مو سره وژلي دي. روسانو په افغانستان کې په خپله لس کلنه جګړه کې شاوخوا دیارلس زره سرتیري له لاسه ورکړل؛ خو ویل کېږي چې په دې جنګونو کې یو یا دوه میلیونه افغانان وژل شوي دي. دغه ټول افغانان روسانو نه دي وژلي، اکثر یې افغانانو په خپله له منځه وړي دي.

اوس چې په مشاعرو کې څوك د تورې خبره کوي او مېړانه ستایي، زما سترګو ته هماغه د تره لور مې درېږي، چې په پېغلتوب کې کونډه شوه. اوس ماته ګرانه ده چې د مېړانې او جهالت ترمنځ فرق پیدا کړم. ځکه خو له داسې شعرونو کرکه لرم.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ